آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۱/۱۳

# لارورکي لارويان

## پنځه لسمه برخه

### په ماسکو کې د افغانانو فرهنګي هڅې

### خواره واره فرهنګي فعاليتونه:

په ماسکو کې د تجارت، دکانداری او مزدوری تر څنګه د افغانانو بل ډول هڅې فرهنګي کارونه وو. دا په ټينګار او مسؤليت سره ويلای شم چې ډيری فرهنګيان د ټوپکيانو د ټوپک له اوره د خلاصون او د خپل ناموس او حيثيت د خونديتوب په خاطر خپل کلی، کور او وطن پريښودل او له مازې يې ځانونه تر يوه پناه ځای پورې رسولي وو.
مخکې مې هم يادونه وکړه چې ماسکو د اروپا خوا ته د خيز د تختي حيثيت درلود، د همدې دليل له مخې ځينو خلکو له هغې ډلي نه ځينو فرهنګيانو ځانونه تر ماسکو پورې رسولي وو.
د دغو فرهنګيانو ډيری سلنه د ځينو په اصطلاح په کمونستي؟ رژيم کې کارکړی و، معاش او کوپون يې اخيستی و. هغه چا چې دوی ته د کمونستي؟ رژيم د مامورينو خطاب کاوه، د هغوی د ديد له مخې دوی بايد سر په دار شوي وای؛ خو د دې فرهنګيانو اکثريت خپل قلم، نه هلته خرڅ کړی و او نه په بهرکې. زه په سياسي خلکو نه غږيږم، هغوی هر چيرې چې لاړ شي سياسي دي، هره شيبه ځانونه بدلولای شي، سياسي خلک بيل دي، هغوی هر چيرې چې وي، خپل، خپل کارونه کوي.
دغې ډلي فرهنګيانو نه يوازې د رژيمونو په ګټه څه نه دي ليکلي، بلکې په رژيم کې يې دننه د مقاومت جبهه پرانستې وه. د دغې جبهې د غړو په باب، د دوی د فعاليتونو او عملي کارونو په باب ما په تفصيل سره ليکنې او يادداشتونه درلودل، خو له بده مرغه چې له خپراوي نه مخکې زما د نورو نا چاپ ليکنو او ياد داشتونو تر څنګه، دا ياد داشتونه هم د ټوپکيانو د نغريو خوراک شوي دي. خو ګومره چې زما په ياد دي، چې يو شمير ليکوالو او شاعرانو دننه په وطن کې پرته له کوم ترون يا د کومې پټې رسمي ټولنې له جوړولو سوا، کله، کله د شخصي ناستو په ترڅ کې، په فرهنګي جريان کې د شته ستونزو په باب خبرې سره کولې او دا يې يادول چې دولت او حاکم ګوند هر فرهنګي حرکت او عمل په خپله ګټه تبليغوي او د ريښتينو فرهنګي فعاليتونو يادونه شانتې هم نه کوي. د دغو خبرو اترو لړی يوې مشاعرې ته وغځيده.
لومړنی مشاعره زموږ په پلرني کور د کابل د څلوردهي په دهمرادخان نومي کلي کې، د اختر په مناسبت جوړه شوه. د همدې مشاعرې او ځينو شخصي ناستو په ترڅ کې د نورو ناستو او په ادبي مسايلو او ستونزو باندې خبرو کولو باندې ټينګار کيده. وروسته بيا وپتيل شوه چې د همدې ډلې ليکوالو او شاعرانو د آثارو له چاپيدو نه وروسته دې د چاپ شوي اثر د مخ کاته د غونډې په ترڅ کې ياد شوی اثر نقد ته هم کينودل شي.
وروسته بيا د نقد دا غونډې ډيرې ښې جوړيدې، د اثر له چاپ سره سم يوه يا دوو تنو ته دنده سپارل کيده چې چاپ شوی اثر ښه په دقت ولولي او د کره کتنې تر دوربين لاندې يې ښه وڅيړي او بيا دې په غونډه کې خبرې ور باندې وکړي. د منتقد له کره کتنې وروسته حاضرينو خپل نظريات ورانديې کول او په پای کې به د اثر خاوند خپله دفاعيه وړاندې کوله.
د ځينو هغو فرهنګيان نومونه چې په دې کړی کې يې فعاليت کاوه په دې ډول دي:
استاد صديق روهي، استاد زلمی هيواد مل، استاد نصرالله حافظ، لطيف بهاند، زرين انځور، اقبال فنا، عارف خزان، حفيظ الله خوږلن، ګل افضل ټکور، اسدالله اسد، آصف بهاند او...
يوه ځانګړې مشاعره په کابل کې د علي ګل پيوند په غوښتنه او د عبيدالله محک په زيار، د ګل افضل ټکور په کورکې جوړه شوه. علي ګل پيوند په جرمني کې د مهاجرت شپې ورځې تيرولې، کابل ته يې خبر ليرلی و چې زه ډير تنګ يم، ما ته په ژوندی بڼه د شاعرانو په خپل غږ کې شعرونه ثبت کړئ او راوې ليږئ.
زما سم په ياد نه دي، چې په هغې مشاعره کې ګومره شاعران سره را ټول شوي وو، ما په خپله شخصي کمره له مشاعرې نه فلم واخيست او بيا عبيدالله محک فلم پيوند ته ور وليږه. په مشاعرې کې چې کومو شاعرانو ګډون کړی وو، زما د ټولو نومونه هير دي، خو د ځينو نومونه يې چې زما په ياد، هغه دا دي :


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ډاکټر زیار، نظیف الله تکل، عبید اله محک، ګل افضل ټکور...
هغو فرهنګیانو چې نه یې په کور دننه خپل قلم خرڅ کړی و او نه په بهر کې، هر کله یې په دې ټینګارکړی دی چې:

## «... قلمه ماتوم دې،خرڅومه خودې نه»

دغو فرهنګیانو چې کوم آثار او مقالې دننه په وطن کې لیکلي او خپاره کړي دي، هغه ټول په چاپي بڼه د مطبوعاتو په پاڼو او د مستقلو کتابونو په بڼه شته دي، له افغانستان څخه د باندې یې چې څه خپاره کړي دي هغه هم موجود دي.
هغه څوک چې د کمونستي؟ رژیم او روسانو ته د خدمت تور لګوي، ټولې نشر شوې مقالې او خپاره شوي کتابونه دې ولولي، د خپلو ادعا ګانو ثبوت دې په کې پیدا کړي او بیا دې د یادو فرهنګیانو د کمونست توب د اسنادو په ډول خپاره کړي.
په ١٩٩٢ کې چې زه ماسکو ته ورسیدم، لالا لطیف او یو شمیر نور فرهنګیان تیار په ماسکو کې وو، په ما پسې زرین انځور راغی. نور فرهنګیان هم پسې راتلل. د ١٩٩٢ کال په پای کې د فرهنګي کارونو د پیل کیدو حرکت محسوس و، خو ډیر ورو او په نا امیدۍ دې حرکت ته کتل کیدل.
په دې ډول په ماسکو کې لومړني فرهنګي ګامونه ډیر ورو پیل شول. کله به یوه یا دوه میاشتې وروسته چیرته سره ټول شوو او کله به مو کومه مشاعره پلمه کړه او د هغې په ترڅ کې به مو پر فرهنګي مسایلو هم خبرې کولې. د لالا کور خو هسې هم د افغانانو له پاره دیره وه، چې هیڅ ورځ به بې میلمه نه وه. خامخا به یو شاعر یا لیکوال، کوم بې کوره نا بلده مهاجر هلته ناست و. یا به مو د افغانستان او افغانانو پر حالت اوف او چوف کاوه، یا به د کوم لیکوال یا شاعر پر کوم اثر، یا د هغوی پر مړی ژوندي یا لا درک توب باندې غږیدو.
کله چې فرهنګیان او فرهنګي کارونه لږ څه منسجم شول، نو د لطیف لالا په ډیرو هڅو او هاند سره د روسیې د لیکوالو په ټولنه کې د افغانستان د ادبیاتو برخه جوړه شوه.
د روسیې د لیکوالو د ټولنې په اړخ کې د افغانستان د ادبیاتو د ځانګې په پرانستونکې غونډه کې له روسي لیکوالو او شاعرانو سره یو ځای ګڼ شمیر افغان لیکوالو، شاعرانو او د فرهنګ د ساحې نورو فعالینو هم ګډون کړی وو، لومړی د روسیې د لیکوالو ټولنې رییس پرانستونکې وینا وکړه. د ادبي او فرهنګي مسایلو تر یادولو د مخه یې د وینا په پیل کې و ویل:
«زه د روسیې د ټولو لیکوالو او شاعرانو په استازیتوب، له تاسو افغان لیکوالو، شاعرانو او فرهنګیانو نه، پر افغانستان باندې د شوروي لښکرو له برید نه بښنه غواړم.»
خو دا خواره واره فرهنګي کارونه ورو، ورو سره ټولیدل او منسجم کیدل. د همدې انتظام په لړ کې مو لومړنۍ نا سته د مشاعرې او د خاطراتو د ویلو په ډول، د زرین انځور په کور کې د١٣٧٢ کال د قوس په لومړي نیټه جوړه کړه. په دغې ادبي فرهنګي ناسته کې دغو ښاغلو حضور درلود:
استاد محمد انورنومیالی، رهنورد زریاب، عبدالله شادان، لطیف بهاند، زرین انځور، داودجنبش، فاروق فردا، حنیف بکتاش، فاروق شاه، ممتازارمان، افضل ټکور، عبدالهادي، خوشحال انځور او آصف بهاند.
د غونډې مشري ښاغلي محمد انور نومیالي کوله. په پیل کې زرین انځور لنډې خبرې وکړې او د دغسې غونډو د جوړیدو پر اړتیا او ارزښت یې خبرې وکړې، وروسته له هغه استاد محمد انورنومیالي د فرهنګي وضعې په باب نظر څرګند کړ او پردې ټکي یې ټینګار وکړ چې فرهنګ او فرهنګیان باید له دغې انزوا څخه را ویستل شي.
وروسته له هغه رهنورد زریاب وغږید. ده هم په خپلو خبرو کې د دغسې مشاعرو د جوړیدو پر اړتیا خبرې وکړې او په دې ټکي یې ټینګار وکړ چې باید له وطن څخه بهرمیشت افغانان خپل فرهنګ، هنر، ادبیاتو اوژورنالیزم ته جدي پاملرنه وکړي. ده و ویل دغه غونډه او دغه را ټول شوي خلک باید د یوې پراخې فرهنګي ټولنې د جوړیدو تومنه شي.
بیاعبدالله شادان په خپل وار سره خبرې وکړې او دې نیمګړتیاووته یې په انتقادي ډول ګوته ونیوله او وې ویل:
«دلته افغانان خپلو فرهنګي کارونو ته دومره پاملرنه، نه کوي...» ده په خپلو خبرو کې د همدغو فرهنګي کارونو په پس منظر او لومړنیو هڅو خبرې وکړې، زیاته یې کړه:
«موږ خو تنو افغانانو(لطیف بهاند، عبدالله شادان...)هڅه وکړه چې یوه مجله یا ورځپاڼه را وباسو، موږ خپلې هلې ځلې وکړې؛ خو د روسیې د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو ستونزو په اثر دغه کار په ټپه ودرید. بیا مو هڅه وکړه چې یوه فرهنګي ټولنه جوړه کړو او موږ تمه درلوده چې په ماسکو کې د ملګرو ملتونو دفتردې په دې کار کې موږ سره مرسته وکړي، خو ملګرو ملتونو هم مرسته و نه کړه. په هر صورت، د دغسې فرهنګي کارونو تر سره کول تل زموږ په زړه کې یوه هیله وه. سره له دې چې زموږ کارونو کومه نتیجه ور نه کړه، خو زه خوشحاله یم چې دغسې غونډه جوړه شوې چې زموږ د پخوانیو هیلو د تر سره کیدو څرک په کې لیدل کیږي.»
له هغه نه وروسته لطیف بهاند د موضوع په اړوند وغږیده او وې ویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«زه تاسو نه مننه کوم چې دلته راغلي یاست. موږ پخوا هم هڅه کړې وه چې دغسې غونډې جوړې کړو او له دې نه مخکې موږ مشاعرې هم جوړې کړېدي. کله یو ځای، کله بل ځای. زموږ وروستۍ دوې مشاعرې د بکتاژ صاحب په کور کې او بیا د شادان صاحب په کورکې جوړې کړې چې په هغو کې ډیرو فرهنګیانو لکه: حنیف بکتاژ، شادان، نایبي، جلال نوراني، رهنورد زریاب، نبي کوشا، طاهرعنایت ګډون کړی و او یوه مشاعره زما (لطیف بهاند) په خپل کور کې جوړه شوه، چې ممتاز ارمان ډیر ښه شعرونه په کې ولوستل.»
د ده د خبرو اصلي موخه دا وه چې په ماسکو کې د میشتو افغان مهاجرو فرهنګیانو د فرهنګی هلو ځلو په لړ کې، نننی غونډه لومړنی غونډه او لومړنی مشاعره نه ده، پخوا تر دې هم غونډې او مشاعرې جوړې شوې دي. حاضرینو له ده سره دا ومنله چې دا لومړنی غونډه او لومړنی مشاعره نه ده، پخوا تر دې هم غونډې او مشاعرې جوړې شوې دي او کیدای شي هماغه ادبي غونډې او مشاعرې، د دغسې غونډو تومنه او اساس وبلل شي؛ خو دا حقیقت باید هیر نه شي چې نننی غونډه پراخه، منسجمه او ګډون کوونکي یې خورا ډیر دي.
له لومړنیو خبرو څخه وروسته استاد محمد انور نومیالی د غونډې د رییس او مشر په توګه و ویل:
«اوس له هر چا سره که شعر وي، که نظم وي، کومه لنډۍ وي که د اتڼ ناره وي یا کومه ټوټه نثر وي؛ هغه دې واوروي.»
نومیالي زیاته کړه:
«هر چا چې له جیب نه لومړی کاغذ یا کتابچه راویسته،نوبت د هغه دی»
خو د زریاب په تاکید سره لومړی فاروق فردا خپل څلور شعرونه ولوستل. وروسته له ده څخه دغو شاعرانو خپل شعرونه واورول:
لطیف بهاند دوه ټوټې شعرونه، عبدالمالک پیغام یوه څلوریزه یو نظم، حنیف بکتاژ یو شعر او یوه څلوریزه، ممتاز ارمان یوغزل، عبدالله شادان پنځه ټوټې شعرونه، آصف بهاند دري آزاد شعرونه، ګل افضل ټکور یو غزل، فاروق شاه یو غزل یوه رباعي، محمد انور نومیالي یو نظم او دوه ټوټې نثرونه ولوستل، د نظیف تکل یو شعر د داوود جنبش له خوا ولوستل شو.
په پای کې له دود سره سم دغونډې مشر ښاغلي انو رنومیالي غونډه په خپلو خبرو سره پای ته و رسوله او وې ویل:
«د ډیرې خوشحالۍ ځای دی چې پردیس وطنوال دلته را ټول سوه. ټولو حاضرینو په دې ادبي غونډه کې خپل شعرونه، ټوکې ټکالې، د زړه خواله، دردونه او غمونه، خاطرات او یادونه سره بیان کړل. دغسې غونډو ته ربښتیا هم اړتیا شته. هغو زلمیانو چې د دې خلکو په را ټولولو او د دې غونډې په جوړولو کې یې زیار ایستلی دی، په ډیره څه ارزي. هغه څرګندوني چې دلته دوستانو وکړې، له هغو څخه دا معلومیږي چې دغسې غونډې به نور هم ادامه پیدا کړي. د مشاعرې په ترڅ کې چې هر چا خپل شعرونه او مطالب وړاندې کړل، ډیر غنیمت شیان مو واوریدل او دا هیله یې موږ ته را پیدا کړه: سره له دې چې افغانان له خپل هیواد او ټاټوبي څخه لرې دي، بیا هم د ژبې او فرهنګ په برخه کې د دوی احساسات تاوده پاتې دي. نه یې خپله ژبه هیره کړې او نه یې خپل فرهنګ غورځولی دی. اوحتی د دې ځای د چاپیریال رنګیني او ښکلا یې په خپلو کلامونو کې ترسیم کړې دي او د وطن یاد یې په خپلو اشعارو او خلاقي مضامینو کې ژوندی ساتلای دی. موږ له دغه مجلس څخه دا الهام اخلو چې د افغانستان فرهنګ او ادبیات ژوندي دي او ژوندي به پاتې شي. ټولو ته دا برې غواړو چې دغسې فرهنګي کارونو ته نوره پراختیا ورکړي.»
په ماسکوکې د فرهنګي کارونو په پیل کې ما شخصآ د غږ او تصویر د ثبتولو امکانات نه درلودل، ځکه له دغو لومړنیِو غونډو نه د غږ او تصویر کوم سند نه لرم او له ځان سره یوازې لیکلي یاد داشتونه لرم اود دې کرښو په لیکلو کې مې پر هغو اتکا وکړه.
د۱۹۹۳ کال د دسمبر په پنځمه نیټه د ښاغلي ممتاز ارمان په بلنه د ده په کور کې ځو تنه فرهنګیان د یوې ادبي مباحثې او مشاعرې له پاره سره را ټول شوي وو. په دې غونډه کې دغه ښاغلي بلل شوي وو:
محمدانور نومیالی، لطیف بهاند، زرین انځور، همایون کامران، فاروق فردا، ډاکټر شیر حسن، نظیف تکل، افضل ټکور او آصف بهاند. د غونډې مشري کوربه ممتازارمان کوله او په پیل کې یې دغه دوې پوښتنې د حاضرینو مخ ته کیښودې:
شعرڅه شی دی؟
له معاصرشعرڅخه څه غواړو؟
دا پوښتنې د دوکتور لطیف بهاند له خوا دا ډول ځواب شوې:
«د شعر موضوع ته تر اوسه پورې قانع کونکی ځواب نه دی ویل شوی. د طبیعت په هره پدیده کې د ښکلا یو زمان او شیبه تر سره کیږي چې هغه ابدي ده او د ښکلا معراج جوړوي. د بشري ټولنې په تاریخ کې دغه شیبه د یونان تخلیقي او هنري ادبیاتو دوره ګڼل کیږي. د یونان د تخلیقي او هنري ادبیاتو د پر مختګ او لوړتیا په برخه کې بیلابیل پوهان جلا، جلا نظریات وړاندې کوي، خو ټول تلاش د یو تقدس د پیدا کولو له پاره و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بله خبره دا ده چي دوه نه بدليدونکي شيان دي، که بدلون ورکړل شي، خپله مانا او ماهيت له لاسه ورکوي. کله چي ځيني کسان شعر لولي، د هغه کلمات ډير ساده ورته ښکاريږي، خو تفسير، اوبدل او پيبل يې ډير ګران دي. دا چي موږ له معاصر شعر څخه څه غواړو، په دي برخه کي باید و ويل شي چي:
کوم نوی تمدن چي په نړی باندي را روان دی، دا تمدن له فرهنګ، هنر او شعر سره سخته تربګني لري. اروپا در واخلئ، په اروپا کي داسي شعر او شاعر نه شته چي هغه دي خپل ملت قانع کړي؛ مګر بر عکس زموږ هر څه شعر دي. په مظاهره کي هم شعر وايو، په خوشحالئ کي، په غم کي او...
زه په دي نظر يم چي باید داسي و ويل شي:
څوک په کوم ځای کي له معاصر شعر نه څه غواړي؟»
وروسته له هغه د حاضرينو د تودو بحثونو په نتيجه کي دغه برخه پای ته ورسيده او مشاعره پيل شوه او دغو شاعرانو خپل شعرونه په کي واورول:
فاروق فردا، لطيف بهاند، ممتازارمان، نظيف تکل، افضل ټکور او آصف بهاند.
د غونډي په پای کي د ګل پاچا الفت د تلين د لمانځلو خبره هم ياده شوه او د مقدماتي کارونو له پاره يي نظريات طرحه او وړانديزونه وشول. دغه راز د رهنورد زرياب د کيسو د لوستلو د محفل د تيارئ په برخه کي هم مفصلي خبري وشوې او پريکړه وشوه چي دغه محفل دي د۱۹۹۳ کال د دسمبر په لسمه نيټه جوړ کړای شي.

## له زرياب سره يو ماښام

په ماسکو کي د افغان فرهنګيانو بله منسجمه غونډه د زرياب د کيسو لوستلو غونډه وه، چي د «شامي با رهنورد زرياب» تر سرليک لاندي جوړه شوي وه. دغه فرهنګي غونډه د فرهنګيانو په ګډو هلو ځلو سره د۱۹۹۳ کال د دسمبر په لسمه نيټه د ماسکو په کابل رستوران کي جوړه شوه. په دغي غونډي کي څلويښت تنو فرهنګيانو ګډون درلود. د غونډي مشري زرين انځور کوله. ده د خپلو خبرو په پيل کي وويل:
«د خوشحالئ ځای دی چي بيا مو وکولای شول چي له پخوا نه زيات فرهنګيان را وبلو او د يو بل په ليدو مو د هجرت په چاپيريال کي زړونه خوشحاله شي. د خوشحالئ ځای دی چي د وطن د حقدار فرهنګي شخصيت د داستانونو په غونډه کي سره را ټول شوي يو. په داسي حال کي چي موږ تاسو ټول له وطن څخه مهاجرت ته اړ کړای شوي يو او د مؤقت وخت له پاره له وطن څخه لري يو؛ که اوس موږ د خپل وطن له فرهنګ او ادبياتو څخه هم لري پاتي شو دا به يوه بله فاجعه وي.»
دي ادبي غونډي دوې برخي درلودې:
۱ـ د عبداله شادان مقاله.
۲ـ د داستانونو لوستل.
عبدالله شادان په خپله مقاله کي د رهنورد زرياب بيوګرافي، د ژوند حالاتو او آثارو باندي خبري وکړي. وروسته له عبدالله شادان نه له رهنورد زرياب څخه وغوښتل شول چي خپل داستانونه ولولي. زرياب د داستانونو له لوستلو مخکي څه مقدماتي خبري وکړي. د ده د خبرو لنډيز دا دی:«

## چون قلم در دست غداري بود
## لاجـرم منصور بـر داري بود

ميګويند آدمي که نامش را فراموش کند مرده است و ملتي که فرهنګش را فراموش کند مرده است. به چند نکته توجه شما را جلب مي کنم:
۱ـ فرهنګ يک ملت هويت آن ملت است، نام و نشان آن ملت است و ملت ما ملتی است با فرهنګ ديرينه، درخشان و ژرف.
۲ـ عالي ترين عنصر فرهنګ ادبيات است، عنصری که انسان را انسان ساخت. به ګفته ای يکي از دانشمندان، ادبيات مکاشفه ای انساني است، وحی بشر است برای بشر.
۳ـ و ما خوشبختانه ادبيات درخشان داريم.
۴ـ در فرهنګ و تاريخ ما ادبيات آفرين، چه شاعر چه نويسنده همواره به جز مراحل انحطاط، مورد ترجيع و تکريم جا معه بوده است و لازم هم است که باشد؛ ولي به عقيده من هر نويسنده در خور احترام نيست، هر روشنفکر و فرهنګي سزاوار ستايش و ترجيع نيست. فرهنګياني هستند که به ساز هر دولتي می رقصند و به دُهل هر قدرت حاکم پای کوبي ميکنند، اينان را بايد نکوهش کرد. من آن روشنفکري را که غلط ميکند و برغلط خود استوار است، بيشتر احترام دارم، تا آن فرهنګي ای که به ساز هر قدرتي ميرقصد؛ زيرا ممکن است آنکه غلط ميکند يک روز، بر غلط خودش متوجه شود و آنرا تصحح نمايد، ولي کارې اين ديګري جبران نا پذيراست.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

من امروز شادمان ام که پشتوانه ای سترگ و نیرومند فرهنگي مان به همت شماري از فرهنگيان پر تلاش مان باعث شده که ما دور از میهن در سرمای سوزنده ای یک شهر سرد در زیر این سقف گرد آیم و به خوانش و شنیدن داستان بپردازیم. باید یاد آوري کنم که شنیدن داستان و خواندن داستان یک عمل انتفاعي نیست، زیرا همانګونه که میشل بوتور می ګوید نوشتن رومان آفرینش اول است و خواندن رومان آفرینش دوم...»
بیا رهنورد زریاب خپلې دوې کیسې ولوستلې. د کیسو له لوستلو وروسته حاضرینو خپلې پوښتنې مطرح کړې چې د لیکوال له خوا لازم ځوابونه ورکړل شول.

«چون قلم در دست غداري بود
لاجــرم منصور بــر داري بود»

د پنځه لسمي برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ